

# صبر کوونکے بُوډا

پښتو

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیة (دعوت اسلامی)

# د کتاب لوستلو دعا

ديني كتاب يا اسلامى سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج ۱ ص ۴۰ دار الفکر بيروت)

طالب غم مدینہ بقیع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: صبر کوونکے بُوډا

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمې وي يا په بائنډنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# صبر کوونکے بوډا

**دعائے عطّار:** یا الله! څوك چې دا رساله ''**صبر کوونکے بوډا**'' اولوَلي یا ئې وَاورِي هغه له په مُصِیبتونو باندې د صبر حوصله ورکړې، او هغه په **پُل صِراط** باندې سلامتۍ سره تیر کړې او د هغه بے حسابه بخښنه نصیب کړې. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شریف فضیلت

د الله پاك آخِري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې دا اُووئیل: ''**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡہُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَکَ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ**'' د هغه د پاره زما شفاعت واجِب شو.

(معجم کبیر، ج[illegible]، ص[illegible]، حدیث[illegible])

فرمائیں گے جس وقت غلاموں کی شفاعت
میں بھی ہوں غلام آپ کا، مجھ کو نہ بُھلانا
فرما کے شَفاعَت مری اے شافعِ مَحشَر
دوزخ سے بچا کر مجھے جنت میں بَسانا

(وَسائلِ بخشِش ص ۳۵۴)

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# صَبر اَو شُکر کوونکے بُوډا:

عظِيم تابعي بزرګ حضرت سَيِّدُنا امام ابو عَمرو عبدُ الرَّحمٰن بِن عَمرو اَوزاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما ته يَو بُزرګ دا واقِعه بيان کړي وه چې زه به د اولياؤ په تلاش کښې په دَشتو، غرونو او ځنګلو کښې ګرځيدم چې د هغوئي د صُحبت نه برکتونه واخلم. يو ځل د دې مقصد د پاره زه مصر ته لاړم هلته مې په يو شړ ځائے کښې خيمه اُولِيدَله، په هغې کښې يو سړے وُو چې د هغه ښپې او لاسونه او سترګې د (جُذام) په وجه ضائع شوي وو خو په داسې حالت کښې هم هغه نيك بنده په دې الفاظو د **الله** پاك **حَمۡد** و **ثناء** بيانَوَله چې: اے زما پروردګاره! زه ستا هغه تعريف ګووم چې هغه ستا د ټول مخلوق د تعريف برابر دے. اے زما پاکه پروردګاره! بے شکه ته د ټول مخلوق خالِق (يعني پيدا کوونکے) ئې او ته په ټولو باندې فضيلت لرې، زه ستا په دې انعام باندې ستا **حَمۡد** (يعني صِفَت) کووم چې تا زه په خپل مخلوق کښې د ډيرو نه افضل جوړ کړے يم.

هغه بزرګ رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي چې کله ما د هغه دا حالت اُوليدو نو ما اُووَئيل چې: قَسَم په خدائے! زه به د دې سړي نه ضرور دا تپوس کووم چې آيا د **حَمۡد** (يعني د الله پاك د صفت) دا الفاظ تاته چا ښودلي دي او يا که د **الله** پاك له طرفه ستا په زړه کښې اچولي شوي دي؟ لِـهذا په دې اراده زه د هغه خواه ته ورغلم او سلام مې ورته اوکړو. هغه زما د سلام جواب راکړو. ما ورته اووئيل:اے نيکه بنده! زه ستا نه د يو څيز متعلّق تپوس کووم آيا ته به ما ته د هغې جواب

راکړې؟ هغه اُووئیل: که ما ته معلومه وي نو اِنْ شَآءَاللّٰه ضرور به جواب دَرکړم. ما اُووئیل: هغه کوم یو نعمت دے چې ته په هغې د **اللّٰه** پاك **حَمْد** کوې؟ (حالانکه ستا ښپې لاسونه او سترګې وغیره ضائع شوي دي.)
هغه ګس اُووئیل: آیا ته نه ګورې چې زما **ربّ** زما سره څه معامله کړي ده؟ ما اُووئیل: ولې نه، ما هر څه لیدلي دي: بیا هغه اُووئیل: ګوره! که **اللّٰه** پاك اُوغواړي نو په ما باندې د آسمان نه اُور راوَرَوَلے شي او ما به په هغې خاورې اِیرې کړي، که **اللّٰه** پاك اوغواړي نو سمندر ته به حُکم اوکړي او ما به په هغې کښې غرق کړي یا که زمکې ته حکم اوکړي نو زمکه به مې رَاښکارِږي خو اُوګوره، **اللّٰه** پاك زه د دې ټولو مُصیبتونو نه **محفوظه** کړے یم نو بیا زه ولې د خپل **ربّ** شکر ادا نه کړم، د هغه **حَمْد** ولې اونکړم او د هغه پاك پروردګار سره **محبت** ولې اُونکړم؟ بیا ئې اووئیل: زما تا سره یو کار دے، که اُوئې کړې نو ستا به په ما احسان وي، چنانچه هغه اُووئیل: زما یو ځوئ دے چې هغه د لمانځه په وخت کښې راځي او زما ضروریات پوره کوي او دغسې د روژه ماتي په وخت کښې هم راځي خو د پرون نه زما خواه ته نه دے راغلے، که ته د هغه مُتَعَلِّق معلومات راکړې نو ستا احسان به وي. ما ورته اُووئیل: زه به ضرور ستا د ځوئ لټُون کووم، زه په دې سوچ کښې د هغه نیك بنده نه رخصت شوم چې که ما د ده دا ضرورت پوره کړو نو کیدے شي چې د دې نیکئ په وجه زما بخښنه اُوشي.

چنانچه زه د هغه د ځوئ په تلاش کښې یو طرف ته اُووَتم، تلمه تلمه چې کله د شګو د دوو خټانو مینځ ته اُورَسِیدَم او د هغه ځائے منظر مې اُولِیدو نو ناڅاپه

اُودریدَم. ما اُولیدل چې یو سړے خور ځناور لګیا دے او د یو هلك نه غوښې شوکوي او خوري ئې، زه پوهه شوم چې دا د هغه کس ځوئ دے، ما ته د هغه هلك په مرګ باندې ډیر افسوس اوشو او ما اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْن اُووے او واپس د هغه کس طرف ته په دې سوچ کښې ورغلم چې که په دې پریشانئ کښې هغه ته د ځوئ د مرګ خبر وَرکړم نو هسې نه چې په اَورِیدو ئې هغه هُم وفات شي، چې آخر په څه طریقه به هغه ته دا غَمناك خَبر وَرکووم چې هغه ته صَبر نصِیب شي چنانچه زه د هغه خواه ته اُورَسِیدم او سلام مې اوکړو. هغه [د سلام] جواب راکړو، بیا ما د هغه نه تپوس اوکړو: زه ستا نه یو تپوس کول غواړم آیا ته به د هغې جواب راکړې؟ هغه اُووئیل: که ما ته معلوم وو نو اِنْ شَآءَاللّٰه ضرور به جواب درکووم. ما وَرته اُووئیل: دا راته اُووَایه چې د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې د حضرت سَیِّدُنا ایوب عَلَیْهِ السَّلَام مقام و مرتبه زیاته ده که ستا؟ دا ئې چې وَاورِیدَل نو هغه اُووئیل: یقیناً د حضرت سَیِّدُنا اَیُّوب عَلَیْهِ السَّلَام مرتبه او مقام زیات دے. بیا ورته ما اُووئیل: چې هغوئي ته کوم تکلیفونه رَسِیدلي وو نو هغوئي پرې صبر اُوکړو که نه؟ هغه اُووئیل: حضرت سَیِّدُنا ایوب عَلَیْهِ السَّلَام کَمَا حَقَّهٗ (یعني چې څنګه حق وو هغسې ئې) مُصِیبتونو باندې صَبر کړے وو. نو ما هغه ته اُووئیل: بیا ته هم د صبر نه کار واخله، وَاوره! چې د کوم ځوئ ذِکر تاسو کړے وو هغه سړے خور ځناور خوړلے دے. دا ئې چې واوریدل نو هغه اُووئیل: د **اللّٰه پاك** د پاره ټول تعریفونه دي چا چې زما په زړه کښې د دې دنیا حسرت اچوَلے دے. بیا هغه کس په ژړا شو او په ژړا ژړا ئې ساه اُووَتله. ما اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْن اُووَئیل: او په سوچ کښې پریوَتم چې په دې ځنګل کښې به یواځې د ده د کفن دفن انتظام

ځنګه کووم ، زه لا په دې سوچ کښې ووم چې ناڅاپه مې د لسو دولسو کسانو قافِله اوليدله. ما هغوئي په اشاره باندې خپل طرف ته را اُوبلل هغوئي زما طرف ته راغلل او ما نه ئې تپوس اوکړو چې: ته څوك ئې او دا مړے څوك دے؟ ما ورته ټوله قصه اوکړه نو هغوئي هُم هلته حصار شو او هغه مړي ته ئې د سمندر په اوبو غُسل ورکړو او هغوئي سره يو کفن وو هغه ئې ور واغوستلو او بيا ئې ما ته اُووئيل چې د هغه د جنازے د لـمانځه اِمامتي اوکړم نو ما د هغه جنازه اوکړه، او بيا هغه نيك کس مو په هغه خِيمه کښې خخ کړو. د هغه نوراني او ښکلو مخونو والا خلقو قافِله واپس لاړه، او زه هلته پاتې شوم، شپه شوي وه خو زما د هغه ځائے نه تللو زړه نه کيدو، زما د هغه صبر او شکر کوونکي بزرګ سره مَحبَّت پيدا شوے وو، زه د هغه د قبر خواه کښې کښيناستم، څه وخت پس خوب راغے نو ما په خوب کښې يو نوراني منظر اُوليدو چې زه او هغه کس په يوه شنه قُبّه باندې موجود يُو او هغه شين لِباس اغوستے دے او په ولاړه د قرآنِ مجيد تلاوت کوي. ما د هغه نه تپوس اوکړو: آيا ته زما هغه دوست نه ئې چې په چا باندې ډير مُصيبتونه راغلي وو او وفات شوے وو؟ هغه مُسکے شو او اُوئې وئيل: آؤ! زه هغه يم. بيا ترينه ما تپوس اوکړو: چې تا ته دا عظيم الشّانه مرتبه څنګه ملاؤ شوه او [د مرګ نه پس] ستا سره څه معامله اوشوه؟ هغه اووئيل: **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** ما ته خپل **ربّ** په جَنَّت کښې د هغه خلقو سره مقام رانصيب کړو چې هغوئي په مُصِيبتونو باندې صبر کوي او چې کله ورته څه خوشحالي نصيب شي نو په هغې شُکر کوي. حضرت سَيِّدُنا اِمام اَوزاعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما چې کله نه د هغه بزرګ نه دا واقعه اوريدلي ده نو د هغې نه پس زما په زړه کښې د مُصِيبتونو والا سره ډيره

مینه پیدا شوي ده. (عُیون الحکایات) **د اللّٰهُ کرِیم دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زباں پہ شکوۂ رنج واَلَم لایا نہیں کرتے　　نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **اللّٰه** پاك له طرفه راتلونکو ازمیښتُونو باندې د شروع نه صبر کَوَل ډیر لوئ عبادت دے او د دې توفیق خوش نصِیبه خلقو ته ملاوِیږي، مونږ د **اللّٰه پاك** کمزوري بندګان یُو، مونږ د هغه نه د ازمیښتونو نه، بلکه په هره معامله کښې د عافیت، عافیت او صرف عافیت [یعني خیر او امان] سوال کوو، په مُصیبت راتلو باندې خپلې جامے شلول، سر او مخ وهل، سینه وهل، چغې سُورې وهل، دا ټولې خبرې حرامې دي. (فیضانِ ریاضُ الصّالحین ص۳ مکتبة المدینه)

مشکلوں میں مرے خُدا میری　　ہر قدم پہ مُعاوَنت فرما
سرفراز اور سُرخُرو مولیٰ　　مجھ کو تُو روزِ آخرت فرما

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د صَبر درې الفاظو په نِسبت درې فرامِینِ مُصطَفیٰ ﷺ

﴿۱﴾ ستاسو په ناخوښه خبره باندې صبر کولو کښې خیرِ کثیر دے (یعني ډیره لویه نیکي ده). (المُسند للامام احمد بن حنبل، حدیث)

﴿۲﴾ چې کله زه خپل یو بنده د هغه د بدن، مال یا اولاد په ذریعه په ازمیښت کښې اخته کړم، بیا هغه صبرِ جمیل سره د هغې استقبال اوکړي نو د قیامت په ورځ به ما

ته حيا راځي چې د هغه د پاره ميزان قائم کړم يا د هغه اعمال نامه کولاؤ کړم.
(نوادر الاصول، الاصل الخامس و الثمانون المائة، ج۲، ص۷۷، حديث۹۳۱)

﴿۳﴾ **الله پاك** فرمائي، چې کله زه د خپل مُؤمن بنده نه د هغه يو دُنيوي ډير خوښ څيز واخلم، بيا هغه صبر اوکړي نو زما سره د هغه جزا د جنّت نه سِوا هيڅ نه دي." (بخاري۴/۲۲۵، حديث۶۴۲۴)

حضرت علّامه مولانا مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې ليکي: دا حديث هر خوښ څيز ته عام دے، مور، پلار، اولاد تر دې پورې چې د تندرُستئ تلل وغيره، چې په کوم يو هُم صبر اوکړي اِنْ شَآءَالله جنّت ته به ځي. لهٰذا دا حديث ډير لوئ زِيرے دے. (مرأۃ المناجيح۲/۵۰۲)

مشکلوں میں دے صبر کی توفیق　　اپنے غم میں گُھلا یا اِلٰہی (وسائلِ بخشش ص ۸۰)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د صَبر او لمونځ په ذريعه مَدد اُوغواړئ

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاك په قرآن کريم کښې د اويا نه زيات ځله د "**صَبر**" ذِکر کړے دے، د **دعوتِ اِسلامي** د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه** د ترجمے والا قرآن "کنزالایمان مع خزائنُ العِرفان" صفحه 17 اوله سيپاره سُوْرَةُالبَقَرَه آيت نمبر 45 کښې ارشاد کيږي:

**وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿۴۵﴾**

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او مدد اوغواړئ په صبر او لمونځ سره او بے شکه لمونځ ضرور درووند دے خو په هغه چا باندې نه، چې د زړه نه زما په لوري ټيټيږي.

صدرُالافاضِل حضرتِ عَلَّامه مولانا سیِّد نعیم الدِّین مُراد آبادي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې آیت نه لاندې لیکي: یعني د خپلو حاجتونو د پاره د لمونځ او صَبر په ذریعه مدد اوغواړئ (نور فرمائي:) په دې آیت کښې د مُصیبت په وخت کښې د لمانځه په ذریعه اِستِعانَت (یعني د مدد غوښتلو) تعلیم هُم ورکړے شوے دے، ځکه چې دا د عبادتِ بَدنیه او نَفسانِیه [یعني د بدني او نفساني عبادت دواړو] جامِع دے او د دې په ذریعه قُربِ اِلٰهي حاصِلیږي. حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اَهَمو اُمُورو پیښیدَلو باندې په لمانځه کښې مشغول کیدلو، په دې آیت کریمه کښې دا هم وئیلے شوي دي چې د مؤمِنینو صادِقینو (یعني رښتینو مسلمانانو) نه سِوا په نورو باندې لمونځ ګران (یعني مُشکِل) دے. (خزائن العرفان، ص۷)

## د صبر تعریف

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د صبر معنٰي ده "**حِصاریدل**" [یعني منع کیدل] او په اِصطلاح کښې د کامیابئ د اُمید په وجه په مُصیبت باندې نه بے قراره کیدلو ته صبر وائي. (تفسیر نعیمي جلد۲ ص۹) او صبرِ جمیل دا دے: چې په مصیبت کښې اخته کس په نورو خلقو کښې نه پیژندلے کیږي او دې ته بنده اُوګرځے مودے پورې د ډیر زیات عبادت و ریاضت کولو په ذریعه رسیدے شي. (لُباب الاحیاء، ص۲۸ مکتبة المدینه)

## د صَبر پیدا کولو طریقه:

**حُجَّةُ الۡاِسلام** حضرت سیدنا امام ابو حامد محمّد بن محمد بن غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه

فرمائي: د مُصِیبت په شروع کښې صَبر و تحمّل کول یو مشکل کار دے او د غم د وخت په وړومبي ساعت کښې نفس په قابو کښې ساتل ډیر مُشکل وي، په داسې وخت کښې خپل نفس ته داسې وایه: اے نفسه! دا مُصیبت خو [هسې هُم] په سر راغلے دے او د دې د لرې کولو څه صورت او تدبیر نشته او **الله پاك** د دې نه لویو لویو مُصیبتونو نه تا ته نجات درکړے دے ځکه چې مُصِیبتونه او بلاګانې په څو څو قِسمه وي. دا مُصِیبت او تکلیف به هم **الله پاك** لرې کړي نو اے نفسه! لږ ساعت د پاره مضبوط صَبر اوکړه، د دې په بدله کښې به تا ته د همیشه خوشحالي او ډیر لوئ ثواب درکړے شي. او حقیقت دا دے چې صبر و تحمّل [برداشت] سره مصیبت، مصیبت نه پاتې کیږي بس ته خپله ژبه په **اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآاِلَیۡهِ رٰجِعُوۡن** وَئیلو او زړه په هغه څیز باندې عادت کړه چې د هغې په وجه تا ته د بارګاهِ اِلٰهی نه اَجَر حاصل شي او د مضبوطو اِرادو والا انبیاء کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام او اولیاء عظامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ عَلَیۡهِم اَجۡمَعِین په لویو لویو مصیبتونو باندې صبر کول یاد ساته.

امام غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه لږ مخکښې نور فرمائي: چې کله ته اوګورې چې **الله پاك** ستا نه دُنیا منع کوي [یعني ستا دُنیاوي نعمتونو کښې کمے راولي] یا په تا باندې مصیبتونه او آفتونه زیاتوي نو یقین لره چې ته د **الله پاك** په بارګاه کښې لوئي مقام والا ئې او هغه تا د خپلو دوستانو په طریقه باندې چلوي، بے شکه ته د هغه په نظرِ رحمت

کښېږي ئې. (منهاج العابدین ص۳۳ مکتبة المدینه)

بنادو صبر ورضا کا پیکر
بنوں خوش اخلاق ایسا سَرور
رہے سَدا نرم ہی طبیعت
نبیِّ رَحمت شفیعِ اُمّت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ صبر قِسمونه او حُکم

﴿۱﴾ شریعت چې د کومو کارونو نه منع کړي ده د هغې نه صَبر (یعني منع کیدل) **فرض** دي.

﴿۲﴾ د ناخوښه کار (چې شرعاً ګناه نه وي) نه صَبر **مُستحب** دے ❁ تکلیف ورکوونکے کار چې شرعاً منع وي په هغې باندې صَبر (یعني خاموشه اوسیدل) منع دي. مثلاً د یَو کَس یا د هغه د ځوئ لاس په ناحقه باندې کټ کړے شي نو د داسې سړي خاموشه اوسیدل او صبر کول منع دي، دغه شان که څوك به بده اِراده د ده د کور والؤ طرف ته نزدې کیږي او د ده غیرت رابیدار شي خو غیرت ښکاره نه کړي او د کور والؤ سره چې څه کیږي دې په هغې صبر اُوکړي او د قدرت لرلو باوجود ئې منع نه کړي نو شریعت داسې صبر حرام قرار کړے دے. (احیاء العلوم ۴/۸۴)

## ۹۰۰ دَرجات

د **الله** پاک آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي صَبر درې قسمه وي. ﴿۱﴾ مُصِیبت باندې صبر ﴿۲﴾ طاعت (یعني نیك کار) باندې صبر ﴿۳﴾ دَ **الله پاك** د نافرمانئ نه صَبر. پس چا چې په مصیبت باندې صبر اُوکړو **الله پاك** به د هغه د

پاره درې سوه درجے ليکي او د هرې درجے تر مينځه د زمکې او آسمان د مينځه [همره] فاصله ده او چا چې په نيکو باندې صبر اوکړو **الله** پاك به د هغه د پاره شپږ سوه درجات ليکي او د هرې درجې تر مينځه د وومې زمکې نه واخله د عرش د انتها پورې فاصله ده او چا چې د ګناه نه صبر اوکړو **الله** پاك به د هغه د پاره نهه سوه درجات ليکي او د هرې درجې تر مينځه د وومې زمکې نه واخله د عرش د اِنتها پورې د دوه چنده [فاصلے همره] فاصله ده.

(فيضانِ رياض الصّالحين، ص۴۸ مکتبة المدينه)

*کوئی دُھتکارے یا جھاڑے بلکہ مارے صبر کر — مت جھگڑ 'مت بُڑ بُرا' پا اجر رب سے صبر کر*

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! — صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دَ صَبر درې الفاظو په نِسبت سره درې حکايات

## رِضَائے مَولٰی اَز هَمه اَولٰی

## [يعني د الله پاك رضا د هر څه نه وړومبے ده]

دَ صحابي ابن صحابي، جنّتي اِبنِ جنّتي حضرت سيدنا عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا ځوئ بيمار شو نو هغوئي دومره غمژن شولو چې خلقو وئيل چې: "مونږه يَريږو چې د دې ماشوم په سبب چرته دوئي سره څه معامله پيښه نه شي." بيا هغه ماشوم وفات شو. چې کله حضرت سَيِّدُنا عبدالله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا د هغه جنازے سره روان وو نو ډير خوشحاله وو. د خوشحالئ د سبب

تپوس ترینه اوکړے شو نو اُوئې فرمائیل: ”زما غم صرف هغه سره د شَفقت په وجه وو او چې کله د **الله پاك** حکم راغے نو مونږ پرې راضي شو.“ (احیاءالعلوم۳/۱۳۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# بانګي،خر او سپے

حضرت سَیِّدُنا ابو عَکَّاشَه مسرُوق کوفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې یو سړے به په ځنګل کښې اُوسیدلو. هغه سره یو چرګ [یعني بانګي]، یو خر او یو سپے وو. چرګ به د سحر لـمانځه له راپاڅولو، په خر به ئې اوبه او نور څیزونه راوړل او سپي به د هغه د کور او د نور سامان څوکئ کوله، یوه ورځ ګیدړه راغله او د هغه چرګ ئې یوړو، د کور کسان په دې نقصان باندې خفه شو خو هغه نیك بنده صبر اوکړو او اوئې وئیل: ”کیدے شي چې په دې کښې مو بهتري وي.“ څه ورځې پس یو شرمخ راغے او خر ئې مات کړو، په دې هُم د کور کسان ډیر خفه شو خو هغه نیك سړي هم دا اووئیل: ” کیدے شي چې په دې کښې مو بهتري وي.“ بیا څه موده پس سپے بیمار شو او مړ شو، په دې باندې هم هغه هم هغه خبره اوکړه چې: ” کیدے شي چې په دې کښې مو بهتري وي.“ بیا لږې ورځې پس هغوئي یو سحر خبر شو چې د هغوئي خوا و شا ټول خلق قید کړے شوي دي [او دُښمنانو ځان سره بوتلي دي] او صرف د دوئي کور محفوظه پاتې شوے دے. حضرتِ سَیِّدُنا مَسرُوق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: نور ټول خلق د سپو، خرو او چرګانو د آوازونو په وجه اُونیولے شو، لِـهذا د تقدیرِ اِلٰهي مطابق

د هغوئي په حق کښې بهتري د دې ځانورو په هلاکت کښې وه. (اِحْیَاءُالْعُلُوم ج۵ ص ۱۷۳) (امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې واقِعې بیانَولو نه پس فرمائي: څوك چې د **الله پاك** پټ فضل و کرم معلوم کړي نو هغه په هر حال کښې د هغه په کارونو باندې راضي وي.)

مَصائب میں کبھی حرفِ شکایت لب پہ مت لانا　　وہ کر کے مُبتلا بندوں کو اپنے آزماتا ہے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# دَ ټولو نه لوئي عبادت کوونکے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **الله پاك** داسې داسې صبر کوونکي بندګان تیر شوي دي چې هغوئي مُصِیبتونو له داسې غاړه ورکړي وه چې د هغې د لرې کیدلو د پاره دُعا غوښتل ئې هم د مقامِ تسلیم و رِضا خلاف ګڼړل چنانچه **حضرتِ** سیِّدُنا یُونُس عَلَيْهِ السَّلَام حضرتِ سیِّدُنا جِبرئیلِ اَمِین عَلَيْهِ السَّلَام ته اوفرمائیل: زه د دُنیا د ټولو نه غټ **عابِد** (یعني عِبادت ګُزار) لیدل غواړم. جِبرئیلِ اَمِین عَلَيْهِ السَّلَام **هغوئي** عَلَيْهِ السَّلَام د یو داسې کس خوا ته بوتللو چې د هغه دواړه ښپے او لاسونه د جُذام په وجه د بدن نه کټ شوي وو او هغه په ژبه دا وئیل: "**یا الله** عَزَّوَجَلَّ تر څو پورې چې تا اوغوښته ما ته دِ د دې اندامونو نه فائِده راکړه او چې کله دِ اوغوښته نو بیرته دِ واخستل او زما اُمِّید دِ صرف په خپل ذات کښې باقي پریښودو، اے زما پیداکوونکیه ربه! بس زما مقصد خو صرف ته ئې." حضرتِ سیِّدُنا یُونُس عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائیل:

اے جِبرئیلِ اَمِین! ما تاسو ته د لمونځ ګُزاره او روژه داره کس د ښودلو وئیلي وو. حضرتِ سیّدُنا جِبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام په جواب کښې اووئیل: په دې مصیبت کښې اخته کیدو نه مخکښې دا هُم داسې [یعني عِبادت ګُزاره] وو، اوس ما ته دا حُکم شوے دے چې د ده سترګې هُم واخلم. چنانچه حضرتِ سیّدُنا جِبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام اِشاره اوکړه او د هغه سترګې اووتلې! خو عابِد هُم هغه خبره اوکړه، "یا الله پاکه! چې تر څو تا اوغوښته د دې سترګو نه دِ ما ته فائِده راکړه او چې کله دِ اوغوښته نو بیرته دِ واخستلې او اے خالِق عَزَّوَجَلَّ! زما اُمّید دِ صرف په خپل ذات کښې باقي پریښودو. بس زما مقصد خو صرف ته ئې." حضرتِ سیّدُنا جِبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام هغه عابِد ته اوفرمائیل: راځه چې دواړه په شریکه دُعا اوکړو چې الله تعالیٰ تا ته بیا سترګې او لاس ښپے درکړي او ته بیا د مخکښې په شان عِبادت شروع کړې. عابِد اووئیل: بالکل نه. حضرتِ سیّدُنا جِبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام ورته اوفرمائیل: آخر ولے نه؟ عابِد اووئیل: "چې زما د ربّ عَزَّوَجَلَّ رضا په هم دې کښې ده نو ما ته بالکل صِحت نه دے پکار." حضرتِ سیّدُنا یُونُس عَلَیْہِ السَّلَام اوفرمائیل: واقعي ما د ده نه بل غټ عِبادت ګُزار نه دے لیدلے. حضرتِ سیّدُنا جِبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام اوفرمائیل: دا هُغه لار ده چې رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ ته رسیدلو د پاره د دې نه بله بهتره لار نشته. (روضُ الرّیاحین ص۹)

جے سوہنا مرے دُکھ وِچ راضی میں سکھ نُوں چُلھے پاواں

زما په غم چې راضي کيږي خوږ الله خوشحالو باندې زه اور پورې کوومه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! صابر داسې وي! آخر هغه کوم مصيبت وو چې د هغه بزرګ رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په وجود کښې نه وو تر دې چې آخِر د سترګو نُور ئې هم لاړو خو د هغوئې په صبر او استقامت کښې د ذرّے همره فرق هم رانغلو. هغوئې "د **الله** پاک په رضا باندې" د راضي اوسيدو هُغه عظِيم منزِل ته رسيدلے وو چې د **الله** عَزَّوَجَلَّ نه شِفاء غوښتلو ته هم تيار نه وو يعني چې **الله** پاک ته زما بيمارول منظور دي نو زه روغ صِحت نه غواړم.

**سُبْحٰنَ الله**! دا د هغوئې برَخه وه. د هُم داسې **الله** والؤ مقُوله ده، **نَحْنُ نَفْرَحُ بِالْبَلَاءِ كَمَا يَفْرَحُ اَهْلُ الدُّنْيَا بِالنِّعَمِ.** يعني "مونږه د آفتونو او مصيبتونو په راتلو داسې خوشحاليږو څنګه چې دُنيادار خلق د دُنياوي نعمتونو په لاس راتلو خوشحاليږي." **ياد ساتئ!** مصيبت کله کله د مُؤمِن په حق کښې رحمت وي! او په صبر کولو د عظيم ثواب ګټلو او بے حِسابه جنَّت ته د تللو موقع ورکوي.

## په يو اَزغي باندې دَ صبر کولو اَجر

چنانچه صحابي اِبنِ صحابي، جَنَّتي اِبنِ جَنَّتي حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي چې رَسُولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **د چا په مال يا بدن کښې چې مصيبت راغے، بيا هغه، هغه پټ اوساتلو او خلقو ته ئې ښکاره نه کړو نو په الله** عَزَّوَجَلَّ **باندې حق دے چې د هغه بخښنه اوفرمائي.**" (مجمع الزّوائد ج ص، حديث) په يو بل رِوايت کښې دي، "مسلمان ته چې په مرض، پريشانئ، رنځ، تکليف او غم کښې کوم مصيبت رسي

تر دي كه [د بدن په كومه حِصّه كښې ئې] ازغے لاړ شي نو **الله** پاک هغه د هغه د ګُناهونو کَفّاره جوړه کړي." (صحيح البُخاری ج۴ ص۳ حديث)

# مونږ به ستاسو ازميښت کوو

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله پاك** په قرآن کريم کښې دويمه سِيپاره سُورةُ البَقَرة، آيت نمبر 155 کښې ارشاد فرمائي: **وَ لَنَبۡلُوَنَّكُمۡ بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَ الۡجُوۡعِ وَ نَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ وَ الۡاَنۡفُسِ وَ الثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾**

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او ضرور به مونږه ستاسو ازميښت کوو د څه وِيرې او لوږې په ذريعه او څه د مالونو او ځانونو او ميوو د کمي په ذريعه، او زيرے واوروه هغه صبر کوونکو ته.

چُپ کر سِیں تاں موتی مِلسَن، صبر کرے تاں ہِیرے پاگلاں وانگوں رَولا پاویں ناں موتی نہ ہِیرے

[**د شِعر مفهوم**: كه په مصيبتونو باندې صبر اوكړې نو ملغلرې به درته مِلاو شي يعني اجر و ثواب او بركتونه به حاصل كړې او كه د ليونو په شان شور او غوغا اوكړې نو هيڅ به په لاس درنشي]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# د لړم په چيچلو باندې صَبر

د سلسلۂ عطّارِيَّه قادِرِيَّه عظيم بزرګ حضرت سَيِّدُنا سَرِي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د صبر مُتَعَلِّق تپوس اُوشو نو هغوئي د صبر متعلق بيان شروع کړو. په دې دوران کښې يو لړم د هغوئي ښپه باندې مسَلسَل ټکونه ورکول شروع کړل،

خو هغوئي بالکل په سکون وو. چا ترینه تپوس اوکړو چې تاسو لړم ولې نه لرې کولو؟ هغوئي اوفرمائيل: ما ته د **اللّٰه پاك** نه حيا راتلله چې زه د صبر بيان کووم او پخپله صبر اونکړم. (احياء العلوم...)

## د صبر کوونکو سردار

د حضرت سَيِّدُنا عبدالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه روايت دے چې حضرت سيدنا اَيُّوب عَلَیۡہِ السَّلَام به په ورځ د قيامت د صبر کوونکو سردار وي. (ابن عساکر، ذکر من اسمه: ايوب، ايوب نبی الله...)

## د رِزق په معامله کښې صَبر

امام غزالي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ د خپل مُبارك ژوَند د تولو نه آخِري کتاب "**مِنهَاجُ العَابِدِين**" کښې فرمائي: (د **اللّٰه پاك** عبادت نه منع کولو کښې د مخلوق د پاره) د ټولو نه لوئي رُکاوټ "**رِزق**" دے خلقو د دې د پاره خپل ځانونه ستړې کړَل، د دې په فکر کښې ئې زړونه ډُومره اَخته دي چې خپل عُمرونه ئې ضائع کړل او د دې په وجه ئې په لويو لويو ګناهونو هُم اسره اونکړه، د رِزق فِکر خلق **اللّٰه پاك** نه او د هغه د عبادت نه لرې کړي دي او د دُنيا او مخلوق په خدمت کښې ئې لګولي دي، لِهٰذا په دنيا کښې ئې د غَفلت، نُقصان او ذِلّت او رُسوائي ژوند تير کړو او د آخرت طرف ته تش لاسونه لاړل، که **اللّٰه** پاك پرې خپل فضل و رحم اونکړو نو هَلته به د حِساب او عذاب سره مخامخ کيږي. لږ غور اوکړئ چې **اللّٰه پاك** د رِزق مُتَعَلِّق څومره آيتونه نازل کړي دي او د رزق ورکولو ئې څومره وعدے، قَسَمُونه او ضمانتونه ذِکر کړي دي، د دې هر څه باوجود

خلقو د نیکئ لار اختیار نه کړه او نه مطمئن شُو بلکه هغوئي د رزق په وجه د بے خودئ په حالت کښې دي او په دې فکر کښې زړونه خوري چې چرته د سحر یا د شپې روټئ رانه لا ړه نه شي. (منهاج العابدين، اردو، ص۷۲ملخصاً تسهیلاً)

ہے صبر تو خانۂ فِردوس بھائیو!    شِکوہ نہ عاشِقوں کی زبانوں پہ آسکے

## دَ صَبر اعلٰی ترینه دَرجه:

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د صبر اعلٰی ترینه درجه دا ده چې د خلقو له طرفه راتلونکو تکلیفونو باندې صَبر اوکړے شي. د **الله پاك** آخري رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ''څوك چې تا سره تعلق پرېږدي ته د هغه سره صِله رَحمي کوه، څوك چې تا محروم کړي ته هغه ته ورکړه اوکړه او څوك چې په تا ظلم اُوکړي ته ئې معاف کړه.'' او حضرت سیدنا عیسٰي عَلَيْهِ السَّلَام اِرشاد فرمائي: زه تاسو ته وایم چې د بدو بدله په بدو مه ورکوئ. (احياء العلوم،۴/۸۲ملخصاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** صبر یوه ترخَه دَوَائِي او یو ناخوښه ګوټ دے خو ډېر د بَرَکت څیز دے، دا د فائدے څیزونه رَاوړِي او نقصان ورکوونکي څیزونه ستا نه لرې کوي او چې دَوَائي دومره ښه وي نو عقلمند انسان به ئې په زور څښي او د هغې تریخوالے به برداشت کوي او وائي به: چې تریخ والے د لږ ساعت د پاره وي او راحت د پوره کال د پاره دے دغسې که **الله پاك** څه وخت ستا دُنیا یا رِزق حصار کړي [یعني په تا تنګي راولي] نو ته داسې وایه: اے نفسه! **الله پاك** ته ستا حال ستا نه ښه معلوم دے او هغه په تا باندې ډېر زیات مهربانه هم دے، چې هغه سپي ته د حقِیر [یعني یو سپک څیز

کیدلو] باوجود رِزق ورکوي بلکه کافِر ته د خپل دُشمن کیدلو باوجود رِزق ورکوي نو زه خو د هغه بنده یم، او هغه پیژنم او په هغه مې ایمان راوړے دے نو آیا هغه ګنې ما ته یوه روټئ هم نه شي راکولے؟ **اے نفسه!** څان ښه پوهه کړه چې هغه په تا باندې رزق د څه لوئي فائدے په وجه بند کړے دے او ډیر زر به **الله** پاك د تنګئ نه پس آساني راوَلي بس لږ شان صَبر اُوکړه بیا به ته د هغه د قدرت ننبې اُوګورې.

وہ کہ آفات میں مبتلا ہیں جو گرفتارِ رنج و بلا ہیں

فضل سے اُن کو صبر و رضا کی میرے مولا تُو خیرات دیدے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## دَ مرګ سوال کول څنګه دي؟

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** بعضې خلقو باندې چې مُصِیبت راشِي نو د مرګ سوالونه شروع کړي بلکه بعضې نادان خو د قرضداري د بیا بیا تقاضه کولو یا د دُنیاوِي تعلیم په امتحان کښې د فیل کیدلو یا کاروبار کښې د ډیر نقصان کیدلو یا د خوښې واده نه کیدلو په وجه خودکُشي هُم کوي، هیڅ کله هُم د دې ګناه طرف ته مه ځئ، یاد ساتئ! خودکُشي ګناهِ کبیره حرام او جهنّم ته بوتللو والا کار دے، خودکُشې کوَلو والا کیدے شي چې دا سوچ کوي چې خلاص به شمه! حالانکه هغه د **الله** پاک د ناراضئ په وجه د خلاصیدلو په ځائے سخت ګیر شي. قَسَم په خُدائے! د خودکشئ عذاب به

هیڅ څوک هُم برداشت نه کړے شي. د **الله پاك** په رضا باندې راضي اُوسیږئ صَبر کوئ او ثواب ګټئ. **او واورئ!** په غم او مصیبت کښې د اخته کیدلو په وجه د مرګ سوال کول ممنوع دي. خو د **الله پاك** سره د ملاقات، د صالحینو [یعني نیکو] خلقو سره د ملاقات په شوق کښې، او په دِیني نقصان یا فساد کښې د اخته کیدلو د ویرې د مرګ خواهش کول جائز دي.

## د مرګ دُعا کله کولے شي؟

**د** اعلیٰ حضرت والِد محترم، علّامه مولانا نقي علي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: چې کله څوک په دین کښې فتنه اُووِیني [یعني چې که ژوندے اوسم نو زما دِین ته به نقصان اورسي] نو بیا د خپل مرګ سوال کول جائز دي. (فضائلِ دُعا، ص۱۸۰، مکتبة المدینه)

د "**بهارِ شریعت**" مُصَنِّف، حضرت علامه مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائی: د مرګ خواهش کول او د مرګ دُعا کول مکروه دي هله چې د دُنیَوي تکلیف په وجه وي، مثلاً [مالِي] ګُزاره ئې ډیره مشکل سره کیږي یا د دشمن وِیَره لري د مال تللو ویره لري. او که دا خبرې نه وي بلکه د خَلقو د [عملي] حالت خرابیدلو، چې په ګناه کښې اخته شوي وي او دې پخپله هُم دا اندیشه لري چې زه به هُم په ګناه کښې اخته شم نو بیا د مرګ خواهش کول مکروه نه دي. (بهارِ شریعت۳) حدیثِ پاك کښې دي چې: په تاسو کښې دِ څوك د مرګ خواهش نه کوي خو چې کله په نیکئ کولو باندې اِعتماد نه لري. د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه منقول دي: **اِذَا اَرَدۡتَّ بِقَوۡمٍ فِتۡنَةً فَاقۡبِضۡنِيۡ اِلَيۡكَ غَيۡرَ مَفۡتُوۡنٍ**، یعني یا **الله** پاکه! کله چې ته د یو قوم سره د عذاب او ګمراهئ اراده اوکړې (نو د هغوئي د

بدو عملونو په سبب) ما د فِتنے نه بغير خپل طرف ته اُوچت کړي. (سنن الترمذي، الحديث[illegible]، ج، ص[illegible])

اللہ! اس سے پہلے ایمان پہ موت دیدے    نقصان مِرے سبب سے ہو سنتِ نبی کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیك او لـمونځ گزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لـمانځه نه پس ستاسو په خائے کښې کيدونکې د **دعوتِ إسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدينه**" په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ










فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ الـمدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com